# د ښکلا د جراحي عملیاتو په اړه شرعي حکم




**پوښتنه:**

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته!

قدرمن شیخ صاحب! د ښکلا د جراحي عملیاتو په اړه شرعي حکم څه دی؟

**ځواب:**

وعلیکم السلام و رحمت الله و برکاته!

که پلاستیکي جراحي د تداوي په موخه وشي، لکه: هغه جراحي چې پر بدن باندې د هغو عیبونو د لرې کولو لپاره ترسره شي، چې د ناروغۍ یا ټکر یا سوزېدو یا نورو پېښو له امله رامنځته شوي وي، یا هم هغه ارثي عیبونه چې د زېږېدو پر مهال د یو شخص پر بدن وي، لکه: د یوې اضافه ګوتې غوڅول یا هم د نښلېدونکو ګوتو ترمنځ د پردې پرېکول او داسې نور؛ نو دغه ډول جراحي عملیات ترسره کول روا دي. د دې لپاره دلیل هغه حدیث دی چې امام ترمذي له عرفجة بن اسعد څخه روایت کړی دی،چې فرمایي:

**«أُصِيبَ أَنْفِي يَوْمَ الْكُلَابِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَاتَّخَذْتُ أَنْفًا مِنْ وَرِقٍ فَأَنْتَنَ عَلَيَّ فَأَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم أَنْ أَتَّخِذَ أَنْفًا مِنْ ذَهَبٍ»**

زما پزه په جاهلیت کې د کلاب د جګړې په ورځ پرې شوه. نو ما له سپینو زرو څخه جوړه شوې پزه کېښوده چې دې چارې بدبویي رامنځته کړه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته امر وکړ، چې له سرو زرو څخه جوړه شوې پزه کېږده. ابو عیسی یاد حدیث ته حسن غریب ویلي او امام النسایي له عرفجة بن اسعد څخه روایت کوي، دی فرمایي:

**«أصيب أنفه يوم الكلاب في الجاهلية فاتخذ أنفا من ورق فأنتن عليه فأمره النبي صلى الله عليه وسلم أن يتخذ أنفا من ذهب»**

د جاهلیت په پیر کې د کلاب په ورځ د ده پزه پرې شوه، نو ده له سپینو زرو څخه جوړه شوې پزه کېښوده او هغې بدبویي را منځته کړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم امر ورته وکړ، چې له سرو زرو څخه جوړه شوې پزه کېږدي. الباني دا حدیث ته حسن ویلي. په حدیث کې د (**أنفاً من ورق**) مانا د سپینو زرو پزه ده او دا چاره ښیي چې د تداوي او علاج لپاره پلاستیکي جراحي عملیات ترسره کول روا دي.

خو که جراحي عمليات د تداوي لپاره نه، بلکې د څېرې د اصلاح، ښه والي او ښايست لپاره وي؛ نو دا کار روا نه دی او دلايل يې هم په لاندې ډول دي:

امام بخاري له علقمه او هغه له عبدالله څخه روايت کوي:

**«لَعَنَ اللَّهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ تَعَالَى»**

الله سبحانه و تعالی پر هغو ښځو لعنت کړی، چې خپله پر بدن خالونه وهي او پر هغو ښځو چې بل ته پر بدن خالونه لګوي، هغه ښځې چې د مخ وېښتان او يا وريځې کاږي او هغه ښځې چې د ښايست لپاره د مخ د غاښونو تر منځ واټن رامنځته کوي، دوی په هغه څه کې بدلون راولي چې الله سبحانه و تعالی پيدا کړي».

امام مسلم پورته حديث په دې الفاظو روايتوي:

**«لَعَنَ اللَّهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ وَالنَّامِصَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ»**

الله سبحانه و تعالی پر هغو ښځو لعنت کړی، چې خپله پر بدن خالونه وهي او پر هغو ښځو چې بل ته پر بدن خالونه لګوي، هغه ښځې چې خپله د مخ وېښتان يا وريځې کاږي او هغه ښځې چې د نورو د مخ وېښتان يا وريځې کاږي او هغه ښځې چې د ښايست لپاره د مخ د غاښونو تر منځ بېلوالی رامنځته کوي، دوی په هغه څه کې بدلون راولي چې الله سبحانه و تعالی پيدا کړي دي».

له ياد حديث څخه څرګندېږي، هغه ښځې چې د ښکلا لپاره د مخ غاښونو تر منځ بېلوالی رامنځته کوي ګناهکارې دي. يعنې دا عمل حرام دی او دا د ښکلا پر لفظ دلالت کوي، چې دا يو وصف مُفَهِمْ( ضمني صفت) دی. **الْمُتَفَلِّجَاتِ** هغه ښځې دي، چې د خپلو غاښونو ترمنځ د ښکلا په موخه واټن رامنځته کوي، هغوی ګناهکارې دي؛ خو که د ښکلا په موخه نه وي د تداوۍ او علاج لپاره وي؛ نو بيا روا ده. په لسان العرب کې داسې راغلي:

**(والفَلَجُ في الأَسنان تباعد ما بين الثّنايا والرَّباعِيات خِلْقةً فإِن تُكُلِّفَ فهو التفليجُ ورجل أَفْلَجُ الأَسنانِ وامرأَة فَلْجاءُ الأَسنانِ)**

**الفَلَجُ في الأَسنان** د ثنايا(د مخ دوه) او رباعي(د اړخ څلور) غاښونو ترمنځ طبعي درز ته وايي، خو که په مصنوعي ډول د غاښونو تر منځ دغه درز را منځته شي بيا دې ته التفليجُ وايي. **رجل أَفْلَجُ الأَسنانِ** هغه سړی دی چې د غاښونو تر منځ يې لاره جوړه کړې وي. **امرأَة فَلْجاءُ الأَسنانِ** هغه ښځه ده چې د غاښونو تر منځ يې لاره جوړه کړې وي.

ځکه نو د **الْمُتَفَلِّجَة** مانا هغه ښځه ده، چې غاښونه تراش کوي، ترڅو کوچني شي او تر منځ يې واټن جوړ شي، غاښونه يې ښايسته شي او د يوې ځوانې نجلۍ څېره غوره کړي. يعنې له دې پرته چې په غاښونو کې څه نيمګړتيا وي او تداوي يې وکړي يې بلکې د څېرې د ښه والي او ښکلا لپاره يې تداوي کوي. دا کار روا نه دی له هغه حديث سره سم، چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم په کې پر هغو ښځو لعنت ويلی چې د ښکلا لپاره خپل غاښونو سره بېلوي يعنې دا کار د ښايست په موخه ترسره کوي. ځکه نو د منع دليل ښکلا ده او که دغه علت نه وي، يعنې که د ښکلا او ښايست لپاره نه وي او د تداوي او علاج لپاره وي؛ نو بيا روا ده.

النووي په هغه حديث کې چې امام مسلم يې روايت کړی، د ښکلا په اړه د **الْمُتَفَلِّجَات** په شرح کې داسې فرمايي:

لکه څرنګه چې د **الْمُتَفَلِّجَاتُ** په لفظ کې (ف) او (جيم) دي، نو **مُفَلِّجَاتُ الْأَسْنَانِ** د ثنايا او رباعياتو غاښونو ترمنځ درز ګنډل کېږي او دا د (ف او ل ) په زور له **الْفَلَج** څخه اخيستل شوی او اصل يې **فُرْجَةٌ** دی چې د ثنايا او رباعي غاښونو تر منځ درز ته وايي. بوډۍ ښځې دا کار د دې لپاره کوي چې ځوانې ښکاره شي او د غاښونو ښکلا يې څرګنده شي، دا ځکه چې د ځوانو نجونو د غاښونو ترمنځ دغه ډول واټن شتون لري. د ده له وينا سره سم **الْمُتَفَلِّجَاتُ** د ښکلا لپاره يعنې دوی دا کار د ښکلا لپاره کوي او دلته اشاره دا ده، هغه څه چې د ښکلا لپاره ترسره کېږي هغه حرام دي، خو که د تداوۍ يا په غاښونو کې د نيمګړتيا او دې ته ورته کار لپاره ترسره کېږي، نو بيا روا دی او الله سبحانه و تعالی تر هر چا ښه عالم دی».

دلته علت ښکلا ده، که جراحي د تداوي او علاج لپاره ترسره شي نو روا ده. که عادي سینګار وي او عملیات د تداوۍ په موخه نه وي ترسره شوي او یوازې د ښکلا او د څېرې د ښه والي لپاره وي. نو دا کار ناروا دی.

زه باور لرم چې د یادې پوښتنې ځواب همدا دی او الله سبحانه و تعالی ښه پوهېږي او هغه تر هر چا ښه عالم دی.

**ستاسې ورور عطا بن خلیل ابو الرشته**

**پوښتونکی: مراد معالج**

**ژباړن: صدیق احمدزی**

**۱۴۳۹ هـق، د رجب ۲۵ مه**

**۲۰۱۸ م، د اپرېل ۱۲ مه**